پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۴،۰۶،۰۲

# لنډۍ او د لنډیو د ثبتولو ستونزه

## پنځمه برخه

ویـــزه پـــاسپـــورټ دې درنـــه ورکـ شـــه
درپسې ورک مې دې له ستر ګونه خوبونه
قـــلـــم راواخــلـــئ تـــوپـــک کـــیـــږدئ
چـــې لـــــه دنیــا ســـره قــدم پرقدم ځونه

(د لنډیوپه باب د ښاغلي مجیب مهرداد مقاله او د هغې یوڅو د پام وړټکي)

د لنډیو په باب زما د مقالو څلورمه برخه(لنډۍ او د لنډیو د ثبتولوستونزه)، د ۲۰۱۴کال د جنورۍ په نیمایي کې خپره شوه.له یادې نیټې نه وروسته، بیا د دې کرښو ترلیکلو پورې د لنډیو په باب د نورو قلموالوله یو شمیر نشر شوو مقالو سره مخ شوم.په دې مقالو کې د لنډیو په باب کله تکراري اوکله هم نوې خبرې راغلي دي. په دې لړکې د لنډیو په باب زما له پاره د پام وړمقاله د ښاغلي مجیب مهرداد مقاله ده، چې د لنډیو د بحث په دې پنځمه برخه کې یوازې په همدې مقاله تم کیږم.

ما مجیب مهرداد نه لیدلی دی او نه پیژندګلوی ورسره لرم، خومیډیا راته وایي چې دی شاعر، لیکوال، ژورنالست او د البیروني پوهنتون استاد دی (۱) کیدای شي دی ډیرې ښیګڼې او یا منفي څه ولري.په ځینو مقالو او انټریوګانوکې یې داسې نظریات راغلي چې هغه د افغانستان نوم او نشان ته تاوان رسوي او د افغانستان ځینې مطرح فرهنګي شخصیتونه په ښونه یادوي(۲)سره له دې چې دا د ده شخصي نظریات دي اوزه یې د بیان د آزادۍ پر بنا درناوی کوم، خوورسره منلای یې نه شم.

د ده شخصیت چې څومره مثبت او یا خدای مه کړه منفي پاینټونه ولري، هغه ټول به د ده د بیوګرافۍ یوه برخه وي، خو هغه مثبت نظریات یې چې د پښتو لنډیوپه باب په میډیا کې مطرح کړي او د هغو په اړوند یې څه ویلي، هغه د افغانستان د ژبو، ادبیاتو او په ټول کې د فرهنګ له پاره ګټور او زما له پاره د تائید وړدي، او زه مجبور د لنډیو په باب د خپل ریسرچ د بشپړیدو له پاره هم یاد کړم او ورباندې تم شم.د لنډیو په باب د ده د همدغو نظریاتو د ځانګړنو پربنا مې، د لنډیو د مقالو په سلسله کې دا مقاله ورته جلا کړې ده.

د ښاغلي مجیب مهرداد، د مقالې سرلیک دا دی:

«اهمیت لندی برای شعرمعاصر پشتو وفارسی درافغانستان»

زما د معلوماتوله مخې، دا مقاله ښاغلي مهرداد دوه ځلې خپره کړې ده:

- له کابل نه په خپریدونکې،«هشت صبح » نومې ورځپاڼه کې.(۳)
- د رزاق مامون (razaqmamoon.blogspot) ویبسایت کې.(۴)

«هشت صبح» ورځپاڼه کې یې د۱۳۹۱ ل کال د دلو په وروستیوکې په دریو برخوکې خپره کړې ده، او د مامون په ویبلاک کې یې د ۱۳۹۳ کال د ثور په یودیرشمه نیټه خپره کړه.

په «هشت صبح» ورځپاڼه کې له خپریدا سره سم زما له نظره تیره شوې وه، خو د خپلو مقالو(لنډۍ او د لنډیو دثبتولوستونزه)په تیروبرخوکې مې یې یادونه ځکه وه نه کړه چې د مقالې چاپي بڼه مې په یادداشتونوکې سره وړاندې وروسته شوې وه اولینک یې هم رانه ورک و؛ خو اوس چې د رزاق مآمون په ویبسایت کې بیا راغله، نوزه مجبورشوم چې د«هشت صبح» مقاله هم پیدا کړم.

مخکې له دې چې په ویبلاک کې راغلې بڼه ولولم، داسې مې فکروکړ چې لیکوال به په خپله لیکنه کې بدلون راوستی وي اویا به یې نوې لنډۍ او د هغو ژباړه ور اضافه کړې وي؛ خو داسې نه وه.کله مې چې دواړه برخې په ځیر ولوستلې، پرته له لاسوهنې او بدلون نه، په دواړوځایونو کې کټ مټ راوړل شوې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اول خو زه له ښاغلي مجیب مهرداد نه مننه کوم چي پرېښتنو، پښتو ژبي او پښتني فرهنګ باندي له دومره ناراوو سره سره، د نورو ژبوله ویونکونه یوځوک، یوقلموال یعني مجیب مهرداد راپیدا شو د پښتو ژبي په باب، د پښتني فولکلورپه باب او بیا د لنډیو په باب یي فکروکړ، احوال یي واخیست او یوڅه یي پرې ولیکل.
څنګه چي د ښاغلي لیکوال ډېره سلنه مخاطبین دری ژبي دي، نو ځکه د مقالي په مقدمه کي د دری ژبي پرشاعری باندي، په تیره د ایران پر شاعرانو ډېر تم شوی، چي د یوې مقالي د حوصلي په چوکاټ کي بحث یوڅه ورنه اوږد شوی دی.
د خپلوخبرو په ترخ کي یي ځای ځای د پښتوژبي د کلاسیکو شاعرانو نومونه په مقایسوي ډول د دری ژبي له شاعرانو سره داسي یاد کړي دي چي دي دواړو ژبو څنګه د تأریخ په اوږدو کي ی وپربل تاثیر کړی دی.دا بحث باید ښه جدي او اوږد وای، خودیر لنډ دی.
وروسته له دغو بحثونو نه لیکوال خپل اصلي مطلب یعني لنډیو ته راځي او د خپلوخبروپه لومړنی جمله کي وایي:
«آماج مقاله من جريان رسمي شعر پشتو نه، بلکي ژانرې در فرهنگ عاميانه پشتون ها است به نام«لندی» شعری که باید بیش از این ها جدی گرفته شود...»(۳)
له دې نه داسي ښکاري چي ښاغلي مهرداد پښتو لنډی په ډېره مینه او جدیت لوستي چي ویلي یي دي:
لنډی نه دي ځیرل شوي، د لنډیو ځیرل باید جدي وګڼل شي.وروسته د لنډیو په باب خپل بحث داسي غځوي:
«چی در میان پشتون‌ها و چی در میان دری زبان‌ها دو گونه برخورد با لندی وجود داشته است، یکی برخوردی از سر تفنن و خوش باشی و خوش‌گذرانی، دو دیگر مواجهه‌ای پژوهشی در چارچوب پژوهش‌های مردم شناسانه و فرهنگ شناسانه در معنای عام آن. من تا کنون در باره ویژگی‌های زیبایی شناسانه لندی و اهمیت و پیشنهاد هایی که می‌تواند برای شعر معاصر پشتو و فارسی داشته باشد، چیزی ندیده یا نخوانده‌ام. بر این مبنا هدف من در کنار اهتمام به بار فرهنگی این پدیده فولکلوریک ارزش‌های جمال‌شناسانه آن است.»(۳)
د لنډیو ځیرونکي په دې سره متفق دي چي د لنډیو په باب هغسي چي ښایي کار نه دی شوی، او د ښاغلی لیکوال هم دزړه سوي له مخي اشاره کړي ده چي د لنډیو د ښکلاییز اړخ په باب چا څه نه دي ویلي.
زه فکر کوم چي په دې باب یوڅه نه، بلکي ډېرڅه ویل شوي دي.سره له دې چي د لنډیو د بې پایه سمندرله پاره به هیڅ هم نه وي، خو یو څه ویل شوي، لیکل شوي اوخپاره شوي دي. په دې برخه کي ډېرڅه، هم په پښتوژبه د لوستلو له پاره شته او هم په دری ژبه باندي. که ښاغلي مجیب مهرداد ته زحمت نه کیږي دغو چاپي او برېښنایي آدرسونو ته دې یو وار سر ورښکاره کړي:

- پښتو لنډۍ، د افغانستان د علوموا‌کادیمی خپرونه، مقدمه(۵)
- کابل مجله،۱۳۸۶کال، ۲-۱ ګڼې(۶)
- د سلیمان لایق ویبپاڼه(Spinta.de)،(لنډۍ الګوی جهانبیني پښتون)(۷)

او دا چي لنډۍ د اوسني پښتو او دری شعرله پاره څومره تومنه درلودلای شي - چي د ده د مقالي اصلي موضوع جوړوي - دا د فکراو تأمل وړخبره ده، نوې خبره ده، چي باید کار ورباندې وشي.
د لنډیو په باب د ده په خبرو کي بله د پام وړخبره دا ده:
«لنډۍ به نظر من شعری است که میتوان درپهنه جهاني مطرح گردد و برای خودش جا باز کند.در کنار آن این نوع شعر دارای چنان ظرفیت های است که ما درآن اقصا نقاط جهان به دنبال آن سرگردانیم ...»(۳)
ښاغلي مهرداد د لنډیو د دوره بندی په باب هم یونوی نظر وړاندې کړی دی، هغه داسي چي:
«... شاید بتوان با پژوهشی سبک شناسانه و تأریخي دوره های این شعر مردمي را براساس رخداد های تأریخي بازتاب یافته در این شعرها وبا توجه به تأثیر پذیري شان ازسبک های رایج رسمی هر دوره مشخص کرد ...»(۳)
دا خو ډېره ښه خبره ده، خو یوازې تأریخي مسایل د لنډیو ټول اړخونه نه شي روښانه کولای.که یوازي څوک په لنډیو کي تأریخي مسایل په نظر کي ونیسي او یا لنډۍ د تاریخي پېښوله مخي وځیري، دا یوازي په لنډیو کي د تاریخي پېښو ځیرل دي چي دا په ادبیاتو کي د تأریخی متونو د برخي ځیرنه کیدای شي، په داسي حال کي چي لنډۍ، د لنډۍ د ویونکو د ټولنیز ژوند ټول اړخونه رانغاړي او د پښتنو د ټولنیز ژوند هنداره باید وګڼل شي.
ده د خپلي مقالي په یوه برخه کي ویلي دي چي په لنډیو کي د هندي سبک تأثیرات هم محسوسیدای شي.
که موږ هره تشبیه، استعاره، کنایه او... په هندي سبک پورې وتړو، نو بیا سمه ده؛ او که لنډۍ او د لنډیو د هستونکو ژوند وځیرل شي، نولیدل کیږي چي د لنډیو اصلي ویونکي ساده کلیوال، پونده شپانه، بزګراو... چي ډېره سلنه خلک یي دسواد له نعمت نه محروم وو او د هندي سبک له مطالعې، څرنګوالي او له هغو نه استفاده کول خولا

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

څه کوي. دا حقیقت په ټولو ژبو او فرهنګونو کې موجود دی چې پرته له دې چې له یوبل نه خبر وي، یا یې یو د بل آثارلوستی وي؛ له ښکلاییز پلوه ځینې ګډې ځانګړني په کې وي.
په لنډیو کې چې هر ډول ښکلاییزې ژبنی ځانګړني یا محتوایي ښیګڼې شته، دا په خپله د دې شعري ژانر ځانګړتیاوې دي چې ویونکویې په طبعي ډول د خپل ژوند بیلابیل اړخونه په کې انځورکړي دي.
ښاغلی مهرداد په خپله مقاله کې د نموني په ډول د پنځه ویشت (۲۵) لنډیو دری ژباړه را اخیستي ده، خوکه یې پښتو متن هم ورسره راوړی وای دا به د دری ژبو لوستونکو له پاره ښه نمونه او په زړه پورې متن وای.له هرې لنډۍ سره د «اشاره» د توري په نښي سره ځیني توضیحات هم ورزیاتوي.دی په خپله وایي چې دا هماغه د بینوا صاحب ژباړه ده، خو لږڅه د خل او تصرف یې په کې کړی دی.په دې برخه کې د ده د خولې خبره داسې ده:
«من این لندی ها را از روی ترجمه های جناب بینوا به فارسی و به صورت تطبیقی در زبان مبدا با اندک دخل و تصرف باز سرایی کرده ام وگاهی برای روشن شدن مفهوم لندی ونشان دادن سویه زیبایی شناسانه شان،اشاره های را هم اضافه کرده ام.(۳)
د بینوا صاحب په ژباړه کې چې ده کوم د خل او تصرف کړی دی، ځومره به مثبت اویا څومره به منفي وي، جلاڅیړنه غواړي او زه دلته څه نه وربانديږ وایم.دا لاندې یې ځوبیلګې دي:

آواز های نیمه شبان بر دل می نشیند
آن که آواز سر داده، یا عاشق است یا از وطن دورافتاده است

توته های دلم را از زمین برمیدارم
اما دستانم را از روی دوش محبوبم برنمی دارم

آتش های صبحگاهی را افروختند
من هنوز نشسته ام ویارم را راضی می کنم(۴)

د لنډیو په باب د دې ښاغلي له څیړني او نویو وړاندیزونو نه زه یو ځل بیا مننه کوم.او بیا بیا مننه د ده له دې نظر نه کوم چې ویلي یې دي:
«من با خواندن بخشی از لندی های پشتون ها به این نتیجه رسیدم که خشونتی که امروز در جنوب حکمفرما شده است، پدیده است وارداتی و تحمیلی و مردمان پشتون را دارای روح لطیف، زیبا پسند وانعطاف پذیریافتم.»(۳)
دغه راز دی د مقالي په پای کي اصل موضوع(اهمیت لندی برای شعر معاصر پشتو وفارسی) ته اشاره کوي او وایي:
«ما همان گونه که از شعر جهان بهره می بریم، از لندی نیزمی توانیم برای رشد ظرفیت های در شعر معاصرما بهره مند شویم»(۳)
دا متقابل تاثیرات په دواړو ژبو کې له پخوانه هم شته وو،نه یوازې په فولکلوریکو ادبیاتو کې، بلکې په لیکني ادب کې یې هم د تاریخ په اوږدو کې ډېرې نمونې لرو، چې هره برخه یې ځانته څیړنه غواړي.
څنګه چې ما وعده کړې وه د هرې مقالي په پای کې به نوې راټولې شوې لنډۍ هم وړاندې کیږي، نو دایې هم زما له نظره څو نوې لنډۍ:

وطن به پریږدم، ترې به لاړشم
غم پرینبودی نه شمه سم راسره ځینه

ویزه پاسپورت دې درنه ورک شه
درپسې ورک مې دې له سترګونه خوبونه

پرمادې کومې کوډې کړې
چې پینې مې دروميې، زړه مې ناست ژړا کوینه

وه د کرزي په شان جانانه
تا ته د میني په ووټ ډیر پیښمانه یمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په چت کې بل چا سره ناسته
ټيليفونونو ته يې زه نيولی يمه

«چت» اوعکسونه دې د نورو
تشو خبروته دې زه ساتلی يمه

قلم راواخلئ ټوپک کېږدئ
چې له دنيا سره قدم پرقدم ځونه

کډې مې توروغروته لاړې
راپسې ژاړي ستا دکلي چنارونه

زړه ته مې خپله مخه ورکړه
لکه ماشوم اوس په ټوپو راځخه ځینه

مآخذونه:


1-http://8am.af/12/01/1393/election-human-rights-afghanistan-mojib-mehrdad /

2-http://www.tajikmedia.com/index.php/-01-12-12-2013-716/32-12-23-02-01-1390
12-24

3-http://8am.af/oldsite.php?option=com_content&view=article&id=-11-29818:1391
41-49-16-20&catid=15-35-16-17-05-114:1390&Itemid=576

4-http://razaqmamoon.blogspot.dk/05/2014/blog-post_9288.html#more

5- پښتو لنډۍ،دافغانستان دعلوموااکاډيمي،پښتوټولنه،۱۳۶۳ ل کال

6- کابل (مجله)،دافغانستان دعلوموااکاډيمی خپرونه،۱۳۸۶کال،۲-۱ ګڼې،۱۷مخ
7-http://spinta.de/maqale/landay20%Algoe%jahnbine20%pashton.pdf


د پنځمې برخې پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ